آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۱/۲۱

# سیمه ییز اقتصاد، اړتیا
# او له دې پلوه په سیمه کې دافغانستان دریځ

*« ...اوس افغانستان دمنځنی آسیا او جنوبی اسیا یوه مهمه برخه گرځیدلی او هیڅوک یې له اهمیت څخه سترگی نشی پټولای... دوکتورمحمد اشرف غنی»*

دریمی برخه

## د لویو او عصري مارکیټونو سیمې

دا هغه سیمی دي چې گرانبیه او لړ موندل کیدونکی او تجملی اجناس پکې زیات دی، نو ځکه دغه ډول سیمې ډیرې د پاملرنې وړ وي . البته د Reilly له نظر سره سم دغو سیمو کې ممکن عادي او ادنی اجناس هم وی، خو د ادنی او اعلی اجناسو ترمنځ، په منځنی توگه توپیر زیات وي. ادنی اجناس ټول هغه اجناس دي چې بله هره سیمه کی خامخا موندل کیږی، مگر اعلی او د لوړي بیې اجناس ممکن نورو سیمو کی ونه موندل شي لکه لبنیات، سابه، ډوډی، صابون، شکره او نور چې په هره سیمه کی شته، خو لوکس عطر، فیشنی نکتایي، یخچال سره زر، لاجبراو داسی نور ممکن هره بله سیمه کی نه وي. د لویو او عصری سیمو مارکیټونو کی بیه او لگښت دواړه لوړ وی
دلته مهمه داده چې باید د تصدیو محل تبدیل شي. د لوکسو اجناسو تولیدوونکی تصدی باید لوړو بیو سیمو ته نژدې وي، خو د ارزانه اجناسو تصدی که اطرافونو ته نږدې وي بده نه ده. خو مشکل دادی چې د سیمو ویشل او ناحیه بندی یواځی د اقتصادی تصامیمو تابع نه ده، بلکی دلته حکومتی پولې(رسمی سرحدات) د اقتصاد یوه لپاره ستونزه پیداکوي. په تیره بیا که چیری اقتصاد پوهان له ملی پولو څخه پورته په اقتصادی منطقو فکر کوي، نو باید د یوه معین فضایي بُعد Spatial dispersion په حدونو کې اقتصادی فعالیتونه و څیړلای شي. د یوه هیواد دننه اقتصادی منطقی ټاکل کوچنی فضایي بُعد احتوا کوي، خو له ملی پولو بهر د دوو یا څو هیوادونو ترمنځ اقتصادی منطقه جوړول بیا یو پراخه فضایي بُعد جوړوي. مهمه داده چې په دغو فضایي بُعدونو کی اقتصادي مسایل بنه رهبری او مدیریت شي. د دی ځانگی د ښه مدیریت لپاره په هغو مسایلو پوهیدل ضرور دي، چې راتلونکو څیرکیو کې ورباندی بحث کوو.

څرنګه چي سیمه بیز اقتصاد  د فضایی بُعد او اقتصادی فعالیتونو اړیکی تحلیل او مطالعه کوي او هره سیمه او منطقه بیله بیله ځانګړنه لري، نو دهری سیمې اقتصادي اوسیمه بیز پرابلمونه هم سره توپیر لري څکه نومنطقه یی اقتصاد ته اړتیا لیدل کیږی ترڅو چي د نوموړي علم څخه په ګټه اخیستني سره دهري منطقي لپاره پلان جوړاو داسي نوري اړیني کړني ترسره شي. منطقوي اقتصاد دانان عمدتاً په لاندنیو برخو کی څیړنه او په هغو باندي بحثونه کوي : دصنعتي موقعیت مشخصات (په ملي او له ملی پولو بهر په منطقوي کچه )، دتصدیو د تمرکز او دهغو منطقه یی اقتصادي تاثیرات،د کورنیو مهاجرتونومشخصات اودځمکي په ګټه اخیستنه کي مثبت تغییرا ت،منطقوی  تخصص، په ځانګړو سیمو کی د اقتصادی فعالیتونو په تمرکز سره داقتصادي او ټولنیزو تغییراتو محیطي تاثیرات، داقتصادي او اجتماعي شرایطوبرابری، په سیمه کي دسوداګریزو اړیکو پیاوړتیا، د عامه او خصوصي سکتورونو دپراختیا لپاره دمناسب چاپیریال رامنځته کول، داقتصادي او سیمه ایز انضمام پر مټ دزیربنایي پروګرامونوپرمختیا، ددولتي سکتور د ادارو پرمختیا او ښه حکومتولي، هغه سیمي چي لا تر اوسه وروسته پاتي او انزوا کی دی د هغوتردټولنیزي انزوا راکمول ، په منطقوی  کچه دچاپیریال ساتني پروګرامونو جوړول  او دنړی  له نوروسیمو سره د اړیکوپیاوړي کول. دغه علم د تاریخ په اوږدو کي تکامل وکړ   او په هغه کي بیلابیلو علماوو  زیار ګاللی دی.  په اقتصاد کی د بیلابیلو سیمو  او  هیوادو شریک کیدو او  اقتصادی ګډو علایقو سیاسی ناملایمات او خوابدی اوسیالی په ملګرتوب  بدل کړی دی. نن ورځ د دغه علم له انکشاف څخه یوه نوی اصطلاح رامنځته شوی چی (freenemy) ورته وایی. لومړی برخه (freind) یعنی دوست یا ملګری څخه اخیستل شوی او دوهمه برخه (enemy) یا دښمن ، یعنی دوست دښمنان ! هغه دسیاسی ډګر دښمنان چي په اقتصاد کی ډیر ښه دوستان او ملګری دی. موږ ته دا ډیره مهمه ده چي سیاسی سیالی په اقتصادی مرستو او پیوستون بدله شی او د دښمنی فضا په دوستانه فضا  واوړی.

## د اقتصادی فعالیتونو منطقه یی تحلیل

یو اقتصاد پوه د منطقو او سیمو د اقتصادی پوتانسیل، مناسب موقعیت، د مناقلاتو دلګښت، د بازارڅخه دفاصلی او نورو فکتورنو په تحلیل سره، د یوي منطقي لپاره فعالیت او دتصدیو تمرکز ټاکی. دځانګړي محل ټاکني پریکړو څخه موخه داده،  چي څنګه دځانګړي محل ټاکني واحدات (Location units) لکه کورنی (مستهلکین)،کاروباریان  او دولتي دواير دخپلو اوسیدو او کړنوسرته رسولو لپاره محلات وټاکي او یا د ضرورت پرمهال محلات بدل کړي . ممکن په لومړي سر کي  زمونږ تحلیل دجزوي اقتصاد(تصدی) په کچه وي، بیا به وروسته دملي اقتصاد په کچه تحلیل ترسره کړو یاني لومړی به په Micro level  چي دلویو واحدونو جوړوونکي دی،  تحلیل وکړو لکه یوه یا دوه کورنی، کاروبار او دولتي (عامه) فابریکه او کوم بل واحد، بیابه وروسته په Macro level یادلویو واحدونو  لکه ښارونو، صنعتونو ،سیموو او داسي نورو کچو تحلیل وکړو.

## منطقه يي والی (Regionalism)

منطقه ټاکنه دپولو په جلا کولو سره پیل کیږي چي هم په لویه کچه وي او  هم په کوچني کچه. مناطقو اوسیمو ته ځانګړی نومونه هم غوره کیداي شي او د نقشي پرمخ  په ځانګړو جغرافیاوی نښو او رنګونو هم ښودل کیږي. دنړی

پرمخ  هر  هیواد دیوه سیاسی واحد په توګه خپله ځانګړی خپلواکه فضالری  ،  چې د یوه دولت د قلمروپه توګه پیژندل کیږي.

عملاً دیو شمیر مقاصدو دترلاسه کولو، د یو شمېر ګډوګټو څخه دکار اخیستلو ، یوبل سره دلاس ورکولو او دپیاوړتیا د اوچتولو او نور و موضوعاتو لپاره څو منطقي یوبل ته لاس  ورکوي او یوه واحده منطقه (region) جوړوي. یوشمیر سیمي مطلقاً دسیاسی  تصمیم له مخي جوړیږی. یو شمېرنوري داقلیمی خصوصیاتو  له مخي  جلاکیږي. یو شمیر نورې سیمي داقتصادي ګډو ځانګړنو له مخي اوکیداي شي ځیني سیمي دکلتوری مشترکاتو له مخي  په نښه شی. په عمومي توګه دنړی  پرمخ منطقي په څلورو ډولونو ویشل شوي دي:

i.	دتولي نړی په کچه  دځمکی پرمخ دسیمو ویش
ii.	دځو  هیوادونو په کچه ویشنه
iii.	دسیمي دځو  هیوادونو په کچه ګډه منطقه
iv.	په ملي کچه په هیواد کی د منطقو ټاکنه
v.	دیو هیواد دننه دکوچنیو  منطقو ټاکنه

اما zone له منطقي  سره توپیر لری. زون یوه تخنیکی  اصطلاح ده چي هغي پلني پټاري اوښودل ښوی جغرافیه یي مقطع ته ویل کیږي چي  دخپلو  شاوخوا سیمو  سره په توپیر کي یوه یا څو ځانګړی ځانګړتیاوې ولري.  لکه په افغانستان کی د پستي د ځنګلونو زون چي له بدخشان څخه د هرات د سبزک تر کوتل پوری په نښه شوی دی او دافغانستان د اقتصاد او د پستي په تولید کي مهم  رول لری.

*دمنطقو دکچو(لیول)*　　　　　　*ډولونه*




منطقه (region): دملی اقتصاد  به حدودوکي  هغه په کره او دقیقه توګه ټاکل شوی  ساحه ده چي دخپل جوړښت او پوتانشیل له مخي ددې  وړتیا لري  چي په خپلواکه  توګه  یویا څو فعالیتونه  وکړی.

مثالونه:

i. دټولي نړۍ په کچه دويشني مثالونه دآسيا دجنوب دمنطقي پيژندنه ده چي دنفوسو يو ډير لوی اکلو مرشن دی. يا دنړي لوی صنعتی هيوادونه چي دسوداګری او ملی عايد له پلوه په يوه جلاګروپ کي راځي.

ii. دڅو هيوادونو په کچه ديوې منطقي ښودل لکه لری ختيځ، منځني ختيځ او ياهم شمالي امريکا، جنوبی امريکا او داسي نور.

iii. دسيمي دڅو هيوادونو په کڅه منطقه لکه د مرکزي آسيا هيوادونه، دجنوبی آسيا هيوادونه، جنوبی افريقااو نور.

iv. په ملي کچه په هيواد کي منطقه ټاکنه لکه دافغانستان ختيځ زون( ننګرهار، لغمان، کونړ، نورستان)

v. دکوچنيو منطقو ټاکنه:لکه د پامير واخان چي ځانګړی طبيعت لري ، يا زمونږ هيوادکي د مديترانی اقليم لرونکی منطقه چي په ننګرهار کي يوڅو ولسوالی او دجلال آباد ښار شاوخوا سيمه ده، دهيواد دجنوب شګي لرونکی دښتي او داسي نورمثالونه.

لومړنی دري کتګوری مطلقاً سياسی اړخ لري، خو دهيواد په کچه ياله هغه ټيټه کچه ديوه هيواد خپل واک او اختيار دی چي ددوی ملی تصاميمو پوري اړه لری. هره کتګوری دحقوقی او ارګانيکی پلوه داړيکو او چلند له مخي توپير کوي. خوپه يوه کي سيمه ييزتوب ته علاقه موجوده وي. اقتصادي اړتياوی دسيمه ييزتوب او منطقه پالنی (regionalism) مهم انګيزه ده. دغه انګيزه او اړتيا دومره مهمه ده چي ځيني وخت دوه دښمن هيوادونه داقتصادی ګټو لپاره ملګری کيږي چي دبازار په اقتصاد کي ورته Freenemies ياد ملګري او دښمن اړيکي ويل کيږي. داسي بيلګي شته چي ديوې سيمي دوه ياله دوه څخه زيات هيوادونه ممکن له سياسی پلوه يوبل سره ١دوستان نه وی، خو داقتصادی اړتيا وو له مخي په يوه منطقه کي يو د بل همکار دی او دمجبوريت له مخي يي اقتصادی ملګرتوب رامنځته کړی دی.

خو دخوشحالي خبره داده چي ډيرو هيوادونو په خپله ملي کچه باندي اقتصادی مناطق ايجاد او ډير ښه يي په ننبه کړی دي. په ملی کچه داقتصادی منطقو ښه والی دادي چي دغه سيمي دهيواد دواحد سياسی حاکميت لاندي وی او دقدرت له اصالت څخه برخمن وي. ملی حاکميت خپلو مناطقوته په ښه ډول رسيږي داځکه چي په سيده توګه ورسره په تعامل کي وي. نورې دوه کچي په سيده توګه په ملی کچه د منطقو ويش تراغيزي لاندي نه راولي، بلکي د يو شمير تعاملاتو او عقدونو تابع وی. په دي ډول سره دمناطقو دغه ويش يوډول جوړښت دی. خو په حتمي توګه د مراتبو دسلسلي ښه نه لري. ددي معنی داده چي ددغه جوړښت ځيني سطوح مستقل اوخپلواک دي، نو ځکه دتابع يافرعی نوم ورکول ناسم کاردی. ځيني وخت يوشميرتيټي کچي دټولي نړې دکچي څخه تابعيت کوي، خو نه دتل لپاره اونه هم هر وخت ! دبيلګي په توګه: افغانستان دملګروملتونو دمنطقه يي ويش په ESCAP (٢) منطقه کښواقع دی او ددغي حوزې په پروګرام کي به کار کوي او ESCAP بيا د ملګرو ملتونو دټولي برنامي مطابق کار کوي. بل مثال يي دسارک لخوا دباميان د فرهنګی مرکز ټاکنه ده چي افغانستان به دسارک دمنطقوي سازمان پريکړی په دي برخه کي عملي کوي. ددي بالمقابل که دافغانستان دولت بغلان ديوی صنعتی منطقي په توګه ټاکي، ددي منطقي برنامی او ټول اجرات بيا هيچا پوري اړه نه لری، بلکی دافغانستان دولت، دسوداګری اوصنايعو وزارت واک لری چي رهبری يي کړي.

داقتصاد دمنطقه يی کيدو فلسفه په دي ټکي ولاړه ده چي داقتصادي انضمام اونړيوالتوب سره سره، بياهم دټولي نړۍ اقتصادی وحدت ناممکن دی. نو دسيمو داقتصادی ځواکونو اوسرچينو سره متحدکول دغه آرمان تريوه بريد پورې پوره کولای شي .

١ -ESCAP: Economic And Social Commuission For Asia And the Pacifict (UN)

دګلوبلستانو (دنړیوالتوب نظریه ورکوونکو)په فکر دمنطقه يي اقتصادونو دسازمانونو رامنځته کيدل داقتصادی، طبیعی اوجغرافیاوی ارتیاوو محصول اوپایله ده اوکیداي شي چه نړیوالتوب سره مرسته وکړي.

Ernest Hass چي دنړیوالو اړیکونامتو څیړونکی دی، په نړیوالو اړیکوکي يي دمناطقو دسره یوځای کیدل، په اقتصادی پرمختګ او دوستانه اړیکو ټینګیدو کي اغیرمن بللی دی. لکه هغسي چي يوهيواد دخپلو سیاسی پولو دننه دجغرافیایي اوطبیعی ځانګړنو له مخي دولایاتو په کچه اقتصادی منطقه په نښه کوي، همداسي هم څوهيوادونه په لویه کچه دغه ډول منطقه جوړوي چي دپریکړو واک دسیمي په کچه یوسازمان یاکوم بل مرکزی ارګان ته سپاری. لکه د سارک سازمان، ایکو اونور سازمانونه. دوي دلاسلیک شوي تړون او د تړون سره مل دقوانینو او طرزالعملونو له مخي ددغي منطقي اقتصادی چاري په ګډه سمبالوی. یوشمیر ګداقتصادی اهداف اوتاریخي،جغرافیایی. کلتوری، سیاسی اوټولنیز وجوهات دوی سره متحد کوي.ځیني وخت دغه ډول منطقه يي سازمان له دوو، دریو یاڅو هیوادونو څخه هم پراخ او دیوه براعظم په کچه جوړیږي. د ANZCERTA, CAREC بنلوکس BENELUX دکارابین دحوزي دهیوادو CARICOM منطقوی سازمانونه يي غوره بیلګي دي. په منطقویتوب (Regionalism) کي دیپام وړتکی دادی چي دسیمي په کچه ګډې ارتیاوي ترلاسه کیږي. د دغو اقتصادی ګټو په خاطر حتا خپل یوشمیر صلاحیتونه دمنطقوی سازمان په واک کي ږدي. د Goldstein په وینا: په دي حالت کي اقتصادي اهداف دملی دولت له کچي پورته کیږي او په نړیوال ډګر کي دیوه سازمان کچي ته ر سیږی او دمنطقي په کچه یوه سیاسی همغږی هم رامنځته کوي، یعنی منطقوی اقتصاد دسیاسی تفاهم سره ډیره مرسته کوي او دسولي له ستراړمان سره هم مرسته کوي.




منطقویتوب په تیره بیا هغو هیوادونو ته ډیر ضروری ده چي لاتراوسه له اقتصادی پلوه خوار او له سیاسی پلوه په انزواکي دي. دوی به په انفرادي توګه ډیرخوار پاتي شي. خوپه یوه منطقوی سازمان کي يي غړیتوب، دپرمختګ چانس زیاتوي.دملی پولودننه دمنطقو په رامنځته کولو او له ملی پولوبهر دهیوادونو په کچه دمنطقوي سازمان جوړول دپوره دقت، دملی منافعو تضمین کولو، دوه اړخیزه یا څو اړخیزه عادلانه تړون، د اقتصادیت دسنجش او داسي نورو باریکو مسایلو د کره کتني غوښتنه کوي.

د دريمی برخی پای

نور بیا

## یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی ددی لیکوال نوری لیکنی هم ولولي، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

سیمه ییز اقتصاد، اړتیا او په سیمه کي دافغانستان دریځ (۳)
Dodiaal_m_bashir_simayz_eqtesaad_altia_۳.pdf